This project is co-funded by the European Union Asylum, Migration and Integration Fund. Making management of migration flows more efficient across the European Union.

# په انګلستان کې د داوطلبانه کار کولو پېژندنه

دا معلوماتي پاڼه له هغو خلورو ژباړل شوو سرچینو یوه ده چې له تاسو سره په انګلستان کې د رضاکارۍ په اړه د پوهېدو او انتخاب کولو کې د مرستې لپاره ډیزاین شوي.

## داوطلبانه کار څه شی دی؟

په ټوله نړۍ کې د خلکو، سازمانونو او حکومتونو د فکر او تمرین کولو د څرنګوالي په برخه کې د داوطلبانه کار کولو په تړاو خورا ډېر توپیرونه شته دي.

که تاسو په انګلسان کې **بې معاشه** د یو څه ترسره کول **غوره کړئ**، نو موخه یې د یو فرد، ټولنې یا نړۍ لپاره چې موږ ټولې ژوند کوو **مثبت بدلون راوستل** دي، دا داوطلبانه کار ګڼل کیږي.

## ایا زه داوطلب کېدی شم؟

هو! هرڅوک داوطلب کېدی شي. په انګلستان کې د اوسیدونکو خلکو لویه سلنه د دوی د ژوند په یو وخت کې د ټولنو او پروژو ملاتړ لپاره داوطلبانه کار کوي.

- تاسو داوطلب کېدی شئ که د پناه غوښتنه کوئ.
- تاسو داوطلب کېدی شئ که د کډوال حالت لرئ.
- تاسو داوطلب کېدی شئ که د ګټو ادعا کوئ.

## ولې داوطلب شم؟

ښايي تاسو وغواړئ چې داوطلب شئ چې د یوې ټیم برخه شئ چې ستاسو په ټولنه کې توپیر رامنځته کوي. سربېره پر دې، که تاسو د رضاکارۍ په ښه فرصت کې برخه واخلئ، تاسو ملګري هم جوړولی شئ، له ځایی سیمو او کلتورونو سره اړیکه نیولی شئ او مهارتونه او تجربه پیدا کولی شئ. تاسو ښايي پر دې هم پوه شئ چې داوطلبانه کار ستاسو د ژوند کیفیت، هوسايني روغتیا او د کار خوندي کولو په وړتیا کې مرسته کوي. د نورو معلوماتو لپاره زموږ د معلوماتو پاڼه په انګلستان کې د داوطلبانه کار لپاره'په ښه توګه پلان جوړونه' وګورئ.

## څه شی په انګلستان کې داوطلبانه کار نه ګڼل کیږي؟

- که تاسو په داسې دنده کې کار کوئ چې معمولا معاش ورکول کیږي، خو دا د وړیا یا نورو ارزښتناکو ګټو لپاره ترسره کوئ.
- که تاسو اړ یاست چې له معاش پرته کار وکړئ.
- که تاسو د کورنۍ نږدې غړي یا له سوداګرۍ سره د مرستې لپاره یو څه ترسره کوئ.
- که تاسو بې معاشه کار زده کړه یا د کاري تجربې لپاره یو څه ترسره کوئ.

### چیرته داوطلبانه کار کولی شم؟

په غیر دولتي موسسو (NGOs)، ګروپونو او موسسو کې د رضاکارۍ ډیر فرصتونه شته دي چې پکې لاندې موارد شامل دي :

- په هنر او کلتور، سپورت، روغتیا او ټولنیزې پاملرنې، ښوونه او روزنه، ځوانانو او د ټولنې پراختیا، چاپیریال، طبیعت او د څارویو سازمانونو، بیړنیو خدمتونو، پولیسو او وسله والو ځواکونو کې د رضاکارۍ فرصتونه.
- د ځانګړو ډلو تر څنګ د رضاکارۍ فرصتونه د بیلګې په توګه له زړو خلکو سره یا د مهاجرت له بګرونډ سره.

- په یوه ځانګړې مسله کې د رضاکارۍ فرصتونه د بیلګې په توګه فقر، کورموندني، روغتیایی حالت یا ډیجیټل استخراج.
- د داوطلبانه کار د مهارتونو فرصتونه د بیلګې په توګه: ډیزاین، موټر چلول، محاسبه، معلوماتي ټکنالوجی، ژباړه، روغتیا یا ښوونه. تاسو ښایي دا هم غوره کړئ چې په یو څه رسمي ډول پکې ښکیل شئ، شاید له ګاونډیانو یا نورو خلکو سره په یو ځای کیدو سره چې په ټولنه کې مسلو یا اړتیاو ته پاملرنه کوي.

تاسو ته موجود فرصتونه د فکتورونو په پام کې نیولو سره توپیر کولی شي چې په دې فکتورونو کې ستاسو د اوسېدو ځای هم شامل دی. د لرې پرتو او آنلاین رضاکارۍ وروستي راڅرګندیدل ممکن تاسو ته د فرصتونو پراخه لړۍ په پرانیستلو کې مرسته وکړي.

## رسمي داوطلبي کول

په داوطلبانه رسمي فرصتونو کې د داوطلبو کسانو رروزل او ملاتړ شاملېږي څو په ځانګړې لاره ځانګړې دندې ترسره کړي چې په دې ترتیب له یوې موسسې سره مرسته وکړي څو اهداف ترلاسه کړي.

تاسو به په رسمي رول کې د داوطلب مدیر لخوا اداره کیږئ او ممکن د تادیه شوو همکارانو او نورو داوطلبانو له ګډ ټیم سره داوطلب شئ. هغه څه چې تاسو یې کولی او نه شئ کولی او دا چې څنګه پروژه اداره کیږي، د سازمان د مکلفیتونو، پالیسیو، او کومې ژمنې چې دوی یې تمویل کوونکو، د پروژې شریکانو او ټولنو سره کړې وي، اغیزمن کیږي. د پایلې په توګه تاسو به د رضاکارۍ ټرون یا د چلند کوډ لاسلیک کولو ته اړ وئ که غواړئ چې ښکیل شئ. دا قرارداد نه دی.

سازمانونه معمولا دا فرصتونه اعلانوي او تاسو ته د غوښتنلیک سپارلو لپاره چې ډیری وختونه د غوښتنلیک فورمه یا ثبت شوې ویډیو له لارې وي، بلنه درکوي. تاسو ته به تر غوښتنلیک وروسته مرکې ته بلنه درکړل شي او له تاسو به وغوښتل شي چې د 'مخامخ مرکې' لپاره رضایت ورکړئ (د بیک ګراونډ چکونو لپاره زموږ د معلوماتو وګورئ).

که تاسو ته د رول وړاندیز شوی وي نو کولی شئ د جامع استخدام تمه وکړئ چې دا تشریح کوي چې هر څه څنګه کار کوي او تمه وکړئ چې د سفر، تازه کولو او هر ډول تجهیزاتو پوښښ لپاره پیسې شتون لري. دلته ښایي سرچینې هم شته وي څو ډاډ ترلاسه شي چې تاسو برخه اخیستی شئ؛ د مثال په توګه سازمان کولی شي د ماشوم پاملرنې یا ډېټا لګښتونه ورکړي. تاسو کولی شئ د جاري مرستې او روزنې او د راتلونکي کار او نورو موخو لپاره د ریفري په توګه د داوطلب مدیرانو کارولو وړتیا تمه وکړئ.

سازمانونه او چاروکي د رسمي رضاکارۍ فرصتونو د رامنځته کولو لپاره ډیر بیلابیل دلیلونه لري. هغه دلیلونه چې پر اساس یې فرصت رامنځته کیږي کولی شي د رضاکارۍ پر تجربه خورا ډېره اغیزه وکړي. د مثال په توګه که تاسو په یوه داسې پروژه کې داوطلب یاست چې د هغه څه د پراختیا لپاره رامنځته شوې چې یوه اداره یې ترسره کولی شي، دا به د یوې داسې پروژې په پرتله توپیر احساس کړي چې په ابتدایي توګه د داوطلبانو د برخه اخیستو د ګټې لپاره ډیزاین شوې.

## غیر رسمي داوطلبي

کله چې خلک د ملګرو، ګاونډیانو یا عقیدې او ټولنې له ډلو سره د یو بل د ملاتړ لپاره عمل کوي او ستونزې حلوي دې ته ډیری وختونه د "غیر رسمي رضاکارۍ " په سترګه کتل کیږي.

هغه خلک چې په خپلو ټولنو کې یا په کمو رسمي طریقو سره داوطلبانه کار کوي، لږ احتمال لري چې ځان د داوطلب په توګه معرفي کړي او احتمالا داسې عبارت وکاروي چې دوی ورسره د راحتۍ احساس کوي، یا احساس کوي هغه څه چې دوی یې ترسره کوي، دا یې عملا تشریح کوي لکه 'په ټولنه کې برخه اخیستل '، 'مرسته وکړئ'، 'متقابله مرسته وکړئ'، یا 'په پیوستون کې عمل وکړئ.'

This project is co-funded by the European Union Asylum, Migration and Integration Fund. Making management of migration flows more efficient across the European Union.

غیر رسمي داوطلبانه کار معمولا د هغو خلکو له لوري وي چې په ګډه کار کوي د دوی په ټولنه کې له سرچینو کار اخلي څو ګډې ستونزې حل کړي

چارواکي او تمویل کوونکي په تاریخ کې له غیر رسمي داوطلبانو څخه د بحران په وخت لکه په کوویډ کې کار اخلی. چیرته چې غیر رسمي داوطلبان لیدل کیږي چې ښه کار کوي، دوی ډیری وختونه هڅول کیږي چې د رسمي سازمان کېدو لپاره ګامونه پورته کړي. د ځینو ډلو لپاره دا بدلون واقعا کار کوي، خو د نورو لپاره دا به ډیر وخت او انرژۍ ته اړتیا ولري او دا ښایي د دوی د پروژې ریښې، کلتور او ارزښتونه په خطر کې واچوي.

په داسې حال کې چې په غیر رسمي رضاکارۍ کې ښکیل خلک زموږ په ټولنو کې د پام وړ مرستې کوي، غیر رسمي داوطلبان ډېری وختونه د هغو رضاکارۍ نو په څیر چې په رسمي داوطلبۍ کې ښکېل دي، ورته ګټې یا د روزنې او پراختیا، ماخذ، لګښتونو، انعامونو او نورو شرایطو کې ورته ملاتړ، نه ترلاسه کوي.

## د خپل ژوند تجربه شریکول

ستاسو د پوهې شریکول د یوه داسې کس په توګه چې د ژوند یوه ځانګړي تجربه لري د داوطلب یا د تادیه شوي مشاور په توګه ترسره کیدی شي.

د مثال په توګه که تاسو د یوه داسې کس په توګه چې انګلستان ته راغلی وي د عامه ترانسپورت کارولو تجربه لرئ، تاسو به ډیره پوهه ولرئ چې د ترانسپورت له پلان جوړونکو سره مرسته وکړی شي چې ښه کار ترسره کړي. تاسو ممکن د ځانګړو ستونزو، ننګونو یا فرصتونو پیژندلو توان په دې سبب چې تاسو څوک یاست او هغو تجربو په سبب چې تاسو درلودلې دي، ولرئ.

تاسو ښایي د دې فعالیت توصیف لپاره 'ګډون'، 'ګډ تولید'، 'غږ درلودل' یا نفوذ درلودل' په څیر اصطلاحات واورئ. په دې حالت کې خلک ځینې وختونه د "تجربې متخصص" په توګه توصیف کیږي.

دا له نورو داوطلبیو سره خورا توپیر لري ځکه چې په دې کې ستاسو د تجربې په وسیله ترلاسه شوي تخصص وړاندیز کول شامل دي څو پر هغه څه باندې چې خدمتونه یې ترسره کړي، ولې یې ترسره کوي او څنګه یې ترسره کوي، نفوذ وکړي او لارښوونه ورته وکړي. د نورو معلوماتو لپاره زموږ د حقیقت پاڼه 'ګډون څه شی دی' وګورئ.

## په انګلستان کې د رضاکارۍ لنډه تاریخچه

دا برخه له خلکو مرسته کوي چې پوه شي چې رضاکارۍ څنګه وده کړې. دا ښایي ستاسو لپاره ددې په پوهیدو کې د علاقې وړ وي چې خلک د رضاکارۍ په اړه څه ډول فکر او احساس کوي او د رضاکارۍ په اړه له ځینو عامه تصورونو او نیوکو څخه مفهوم واخلئ. که تاسو غواړئ رضاکارۍ کې دخلېدو څرنګوالي معلوماتو ته په مستقیم ډول ورسیږئ، په مهربانۍ سره زموږ نورې معلوماتو پاڼې د 'رضاکارۍ غوره پلان جوړونه' او 'د بیک ګراونډ چیک د معرفي' پاڼې وګورئ، چې ډیر عملي دي.

په تاریخي ډول په انګلستان کې لکه د نورو هیوادونو خلک د اړتیاوو په پوره کولو کې د مرستې لپاره راټول شوي چې حکومت او ځایي چارواکي یې نه پوره کوي او په دوی ټولنه او چاپیریال کې یو څه اضافه کړي.

په داسې حال کې چې ډیری رضاکارو له چارواکو د کارونو ستاینه کړې، د عادي خلکو اوږد تاریخ هم شتون لري چې له نورو سره د بدلون لپاره کمپاین کوي یا د ستونزو د حل لپاره خپلواکې لارې رامنځته کوي.

This project is co-funded by the European Union Asylum, Migration and Integration Fund. Making management of migration flows more efficient across the European Union.

نن ورځ د شوراګانو او حکومت لپاره دا معمول دی چې پر داوطلبانو تکیه وکړي څو مهم فعالیتونه او خدمتونه وړاندې کړي او د المپیک په څیر لوی پیښې ممکنې کړي.

دا د رضاکارۍ لپاره په زیاتیدونکي توګه عامه ده چې د ډاکټرانو او ملاتړ کارمندانو لخوا تجویز یا نسخه ورکول کیږي، د خلکو لپاره د کارموندنې امکانات، ټولنیزې اړیکې او روغتیا او هوساینې ته وده ورکولو لپاره د یوې لارې په توګه وړاندیز کیږي.

په تیرو کې ډیری سازمانونو داسې رضاکارانه فرصتونه رامنځته کړي چې د هغه خلکو لپاره چې خوشې وخت، د خوښې انتخاب او سرچینې ولري غوره کار کوي. دې کار د هغو خلکو لپاره چې لږ سرچینې یا کم وخت لري د رضاکارانه کار له لارې مرستې او ګټه پورته کولو په برخه کې ستونزې رامنځته کړې. اوس، د بېلابېلو بګروندونو د خلکو په نظرونو او رهبرۍ سره، ډیری رضاکار سازمانونو داسې رضاکارانه فرصتونه رامنځته کوي چې خوندي، ډیر د لاسرسي وړ او ورسره د یو ځای کیدو لپاره ډیر زړه راښکونکي دي.

په انګلستان کې په راتلونکو کلونو کې احتمال شته چې رضاکارانو ته به په اړینو خدمتونو کې د مرستې او زموږ په ټولنو کې د بیړنیو اړتیاوو د پوره کولو غږ وشي. دا به د رضاکارۍ ډولونو کې ډیری ډولونه رامنځته کړي چې خلک پکې دخیل کیدی شي او ګټه ترې پورته کوی شي.

د هغو خلکو لپاره چې کار نه شي کولی د پناه غوښتنې ادعا کوي او د هغو خلکو لپاره چې په انګلستان کې د ژوند د جوړولو لپاره کار کوي، دغه څرګندېونکي رضاکار فرصتونو ښايي د وخت د ښه کارولو، پر ځايي ټولنو د پوهېدو او په فعاله توګه پکې برخه اخیستو او د مختلفو یا شخصي اړتیاوو او هیلو پوره کولو لپاره، یوه ښه لار وي

دا معلوماتي پاڼه د Migration Yorkshire لخوا د 2022 په دسمبر کې ولیکل شوه. که کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ او موږ به ستاسو سره د مرستې لپاره پوره هڅه وکړو:

یا 0113 378 8188